Pashto Version




# د درغلۍ مخنیوی او راپور ورکول



د بیا میشتیدنې پروسس کولو خدمتونه وړیا دي. د پروسس کولو خدمتونو یا مرستې په بدل کې هیڅ چا ته پیسې مه ورکوئ یا د هیڅ چا سره د کوم څه شي موافقت مه کوئ.



د بیا میشتیدنې پروسې خدمتونو په بدل کې د پیسو، خدمت، یا کومې ګټې هرډول غوښتنه کول غیرقانوني دي او درغلي ده. د بیا میشتیدنې پروسې پرمهال هیڅکله باید هیڅ څوک ستاسې نه د پیسو یا تادیاتو غوښتنه ونکړي یا ستاسې د کومو خدمتونو لپاره د کومو ګټو غوښتنه ونکړي.

پدې کې د امریکا متحده آیالاتو حکومت، نړیوالو سازمانونو، د بیا میشتیدنې ملاتړ مرکزونو، طبي کلینیکونو، او غیر دولتي سازمانونو څخه کوم کارمند ته د پیسو تادیه کول شامل دي.  د دې سازمانونو او ادارو څخه باید هیڅ څوک ستاسې نه د پیسو یا کومې ګټې غوښتنه ونکړي.



په RSC کې هیڅ څوک د دې ځواک او قدرت نلري چې ستاسې کیس چټک کړي یا قبولیت یې تضمین کړي. کوم چا ته د پیسو ورکول به ستاسې کیس کې په هیڅ ډول مرسته ونکړي.

د امریکا متحده آیالاتو د مهاجرینو د منلو پروګرام به هیڅکله تاسې ته د فیسبوک حساب یا کومې بلې ټولنیزې رسنۍ له لارې پیغام ونه لیږي. د خپلو ارتباطاتو په اړه محتاط اوسئ. یوازې د ارتباط رسمي وسایل وکاروئ.



که چیرې کوم څوک ستاسې نه پیسې وغواړي، تاسې اړ کړي چې غوښتنلیک جوړ کړئ، د جنسي خدمتونو یا کوم بل ډول ګټه اخیستنې غوښتنه وکړي، یا تاسې په کوم بل ډول وګواښي، نو مهرباني وکړئ، خپل د بیا میشتیدنې ملاتړ مرکز خبر کړئ. د ناوړه چلند راپور ورکولو په اړه معلومات به تاسې ته ستاسې د لومړۍ مرکې پرمهال درکړل شي.

د دا ډول پیښو راپور ورکول ستاسې غوښتنلیک باندې اغیزه نلري.  د درغلۍ په اړه د معلوماتو راپور ورکول د هر چا لپاره د پروګرام قوي کولو کې مرسته کوي.

په یاد ولرئ، د بیا میشتیدنې خدمتونه وړیا دي. د RSC کارمندان دلته د مرستې لپاره دي او کولی شي هرکله پدې اړه نور معلومات وړاندې کړي.

د بیا میشتیدنې پروسس کولو ټول خدمتونه وړیا دي. په پروسه کې هیڅکله باید هیڅ څوک ستاسې نه د هیڅ کوم خدمت لپاره د پیسو د تادیه کولو غوښتنه ونکړي. که چیرې کوم څوک ستاسې نه پیسې وغواړي، تاسې اړ کړي چې غوښتنلیک جوړ کړئ، ادعا وکړي چې کولی شي ستاسې غوښتنلیک کې مداخله وکړي یا چټک یې کړي، یا تاسې په کوم بل ډول وګواښي، نو مهرباني وکړئ د بیا میشتیدنې ملاتړ مرکز ته یې په اړه راپور ورکړئ.

The contents of this fact sheet were developed under an agreement financed by the Bureau of Population, Refugees, and Migration, United States Department of State, but do not necessarily represent the policy of that agency and should not assume endorsement by the Federal Government. **This material is in the public domain and may be reproduced.**

Pashto Version



# دا د مهاجرینو لپاره خوندي ځای دی



ډیری مهاجرینو په خپل ژوند کې تروماتیک پیښې تجربه کړي دي. د امریکا د متحده آیالاتو د مهاجرینو د منلو پروګرام د برخې په توګه، د بیا میشتیدنې ملاتړ مرکزونه خوندي ځایونه دي، د مهاجرینو لپاره محافظت شوی چاپیریال وړاندې کوي.



د امریکا متحده آیالاتو قانون د هر چا لپاره مساوي حقونه تضمینوي. په RSC کې به هیڅ څوک د هیڅ کوم دلیل لپاره ستاسې پروړاندې تبعیض ونکړي. د RSC ټولو مهاجرینو درناوی کوي د هغوی ملیت، نژاد، مذهب، سیاسي لیدلوري، جنډر، یا جنسي لیدلوري، پشمول د همجنسه ژوند شریکانو په پام کې نیولو پرته.



که تاسې شکنجه شوي او ربړول شوي یې، د تاوتریخوالي سره مخ شوي، ګواښل شوي، یا پروړاندې مو تبعیض شوی وي، تاسې کولی شئ د خپلې مرکې پرمهال یې زموږ کارمندانو ته ووایی. موږ به په توجه او زغم سره تاسې ته غوږ شو.

د خپل کیس کارکونکي یا د نورو کارمندانو سره د خپلو تجربو په اړه غږیدل سم دي، او تاسې هرکله کولی شئ د یوه سوپروایزر سره د غږیدو لپاره غوښتنه وکړئ. کوم څه چې تاسې موږ ته وایی د هغه سره به د محرم معلوماتو په څیر چلند کیږي.

په یاد ولرئ، د بیا میشتیدنې پروسس کولو خدمتونه وړیا دي. موږ دلته د مرستې لپاره یو کارمندان کولی شي پدې اړه هرکله نور معلومات درکړي.



د بیا میشتیدنې پروسس کولو ټول خدمتونه وړیا دي. په پروسه کې هیڅکله باید هیڅ څوک ستاسې نه د هیڅ کوم خدمت لپاره د پیسو د تادیه کولو غوښتنه ونکړي. که چیرې کوم څوک ستاسې نه پیسې وغواړي، تاسې اړ کړي چې غوښتنلیک جوړ کړئ، ادعا وکړي چې کولی شي ستاسې غوښتنلیک کې مداخله وکړي یا چټک یې کړي، یا تاسې په کوم بل ډول وګواښي، نو مهرباني وکړئ د بیا میشتیدنې ملاتړ مرکز ته یې په اړه راپور ورکړئ.

CORE
Cultural Orientation Resource Exchange

The contents of this fact sheet were developed under an agreement financed by the Bureau of Population, Refugees, and Migration, United States Department of State, but do not necessarily represent the policy of that agency and should not assume endorsement by the Federal Government. **This material is in the public domain and may be reproduced.**